شیر محمد امیني ستانکزی

۲۰۱۸/۱۰/۲۳

# له شته بدمرغیوو څخه خلاصون،

## په ملي یووالي رامنځته کیدای شي

مور ولي دومره بدبخته یو، چي هم پخپلو کي سره وهو او هم پردي هیوادونه مور ته لاس یو کړي او لاس په ماشه کمین کي راته ناست دي.

کله په یو نوم او کله په بل نوم مور وژني، نو بیا خپلو کي هم د قام او ژبي خبري کوو، هغه پښتون ده، دغه هزاره ده، او هاغه تاجک ولي؟ خو پردي هیوادونه مور ته ترهګر، دهشتګر، قاچاقبر او په سلو نورو نومونو مور یادوي او په دي سره وژل کیږو او دا لړی لا روانه ده.

ښه پوهیږو او بیا دغه پره دیو هیواد دسیسه ګڼو؛ لامل یي په خپلو کي د باورنشتون، اتحاد نه درلودل او په ژبه د افغان په نوم ویاړ کوو عمل کي بیا هغه څه کوو، چي نه وي موکړي.

زړونه مو نه دي پاک، یو بل ته کوهي کیندو، د یو بل خبره پرځان نه منو، ځان ته من وایو، نیتونه مو په یو بل بد دي، یو چي پرمختګ وکړي، د هغه لپاره دسیسه جوړ ؤ، څو نور مخته ولاړ نشي.

د دین احکام ټول منو او هم په ښو او بدو چي لاربښوني شوي مور یي نورو ته رسو او په خپله مولاعمل ندی کړی. ځکه که په پوره ډول په اسلامي او شرعي حدودو ځان پوه کړو او په ژبه ووایو او په زړه وربانديدي باور ولرو، نو نن ورځ به خدای پر مور داسي حالات نه رانازول.

د دغو حالاتو څخه ځان ایستل؛ ترهغه پوري چي په اسلامي جامه ځان برابرنکړو، د امربالمعروف او نهي عن المنکر ځانګړني تطبیق نکړو، نو هیڅکله به د دغو بدبختیو څخه په امن کي ونه اوسو. د افغانستان حالات هم ډیر پیچلي او خطرناکه دی، هره غلطه پریکړه افغانستان له لویو ناورینونو سره مخامخولی شي.
که څه هم د افغانستان ملي ځواکونه په فکري ګډوډی، تشنج او د حالاتو څخه د سم پوهاوي د نشتون په تشه کي لاس او پښي وهي او په یو ډول سیاسي کنګسیت کي ډوب دي خو بیا هم د افغانستان د ژغورني لپاره سترګي د همدوی په لوری آوري.

که څه هم یو شمیر روڼ اندي د فساد د کړیو د شیطاني هڅو ښکار شوي او د فساد د کړیو د شعارونو تر اغیزی لاندي عمل کوي او خپلي شخصي ګټي تر ملي او وطني ګټو لوړی بولي.

خو لا هم د افغانستان ستر اکثریت د خپل وطن، خلکو، سولي او پرمختیا سره ژوره مینه لري او دوی په ګډه کولی شي د ټولو تورو ارتجاعي قوتونو پر خوله ماتونکی سوک شي، چي باید له دغه ریزرفونو سمه او منطقي او پرځای استفاده وشي.

هغه څه چي اوسني حالت له هر وګړي نه غواړي هغه د مکاره دښمن د پیچلو څو اړخیزو اقداماتو ته ژوره پاملرنه او له احساساتي او بي بنسټه طرحو او اقداماتو څخه ډډه کول دي. شرایط غوښتنه کوي څو مسایل په ژوره او علمي ډول و څېړل شي او د حالاتو په ژوري څېړني او مطالعي سره لازم چلند غوره شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولــئ

که موږ سره په خپلوکې يو ونه اوسو او يو بل له لاسه ونه نيسو، هيڅکله به زموږ رښتوني اتحاد شتون ونلري او که د يو بل له زړونو راشو، يو بل له لاسه ونيسو البته د زړه له صدقه يادې کړنې ترسره کړو، نو ډير ژر به د يو اتحاد لرونکي هيواد شاهدان نړيوالو ته ځان ثابت کړو.

بيا به هغه او دغه نه ملامتو چې موږ وژني، زموږ کورونه ويجاړوي، د دغو بدبختيو مخه به ډير ژر زموږ په ملي يووالي او اتحاد کې دی او ځوک موږ ته کاږه هم ونه ګوري .

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ